# په افغانستان کې د با اعتباره، جامع او خونديِ ټاکنو د اړتيا په اړه د افغانستان- پاکستان د ملاتړ او نړيوال ګروپ بيانيه

د افغانستان- پاکستان د ملاتړ نړيوال ګروپ چې د جون د مياشتې په ۲۶ (۲۰۰۹) په ترييستې کې سره وليدل په افغانستان کې د ټولټاکنو هغه اساسي نقش پيژندلی دی چې په دې ملک کې يې د ديموکراسي د تقويې لپاره لوبولای شي. ګروپ په افغانستان کې د اعتباري، جامع او خونديِ ټاکنو په اهميت باندې ټينګار کوي چې د افغانانو اراده تمثيلوي.

ګروپ له ټولو نوماندانو څخه غواړي چې د قانون د روحيې او احکامو د چلند د موازينو په احترام، درنښت او انصاف سره سم کمپاين وکړي چې د افغاني ديموکراتيکو موسساتو اعتبار لوړ کړي. د دې لپاره چې د افغانانو عالي ګټې وساتل شي؛ ګروپ ټينګار کوي چې کمپاين بايد په پاليسيو او ايډيا ګانو باندې اتکاء وکړي چې د افغانستان راتلونکی بهتره کړي.

ګروپ په دې ټينګار وکړ چې بايد د ولسمشر فرمان د دولتي ادارو د نه مداخلې په اړه په دقيقه توګه پلې شي، دا چې د ټولو نوماندانو برابر حقونه په دې برخه کې رعايت شي چې په پوره توګه په پروسه کې ګډون ولري او د دوي مخنيوی و نه شي او دا چې هغوي د دې توان ولري څو خپل نظرونه پرته له ډاره ، تهديد او خشونت څخه څرګند کړي.

ګروپ د ټولټاکنو د پايلو په اړه د هغه د غړو په بېطرفۍ او پرخپله ژمنه يې چې ددغې پروسې اعتبار او شفافيت په کې وساتل شی يو ځل بيا ټينګار وکړ. دې کې دا په ډاګه شوي دي چې يوازې با اعتباره، مصونه او شاملې ټولټاکنې کولای شي د هيواد لپاره مشروع مشرتوب رامنځته کړي. ګروپ افغان رايه ورکوونکې دې ته راوبلل چې د ټولټاکنو په بهير کې ونډه واخلي.

ګروپ په پوره ملاتړ سره د يوناما د دې نقش او دندې څخه د بشپړ ملاتړ تاييد وکړ چې د نړيوالې ټولنې د مخکښه همغږي کوونکي په توګه يې ترسره کوي او په دې يې ټينګار وکړ چې هغه بايد د ټولټاکنو د داسې يو چاپيريال لپاره کار وکړي چې د ټولو افغانانو د بنسټيزو انتخاباتي حقونو د کارولو لپاره مساعد وي.

ګروپه د اروپايي ټولنې د هغې پريکړې هرکلی وکړ چې غواړي د ټولټاکنو د نظارت يو پلاوی واستوي، او همدارنګه د (OSCE) څخه په دې اړه چې د ټولټاکنو د ملاتړ يو ټيم استوي يادونه شوه او نورې ډلې که ملي دي يا نړيوالې دي دې ته وهڅول شوې چې د ټولټاکنو د بهير نظارت وکړي.